## د افغانستان د ګمرک مدیریت پیاوړي کول

کابل افغانستان، د ۲۰۱۰ د جنوری ۱۸: لوړ شفافیت او د ګمرکونو د آسانتیاو اغیزمنتیا، د افغانستان د سوداګرۍ کچه او د عوایدو راټولول په بې ساري ډول زیاتوي.

کومې لارۍ او باروړونکي موټري چې هره ورځ د تورخم او سپین بولدک سرحدي ښارونو له لارې افغانستان ته راننوځي، د هغو مالونو لپاره چې افغانستان ته يې راوړي، په کابل کې د ګمرک او عوايدو د ستر او ځلانده رياست په وړاندې د ګمرک د معاملو له دفتر څخه د ګمرکي ترخيص لپاره ودريږي.

په پاکستاني دوديز شکلونو ښکلې او ښايسته شوې د رنګه لاريو اوږد کتار د افغانستان او ګاونډيو تر منځ د سوداګرۍ د زياتوالي ښکارندويي کوي. په جلال آباد سړک باندې پروت د ګمرک او عوايدو رياست نوی دفتر په کابل کې د پولې او د افغانستان دولت د ګمرکي چارو د مديريت ښه والی په ډاګه کوي.

شپږ کاله مخکې دغو لاريو بايد د ترخيص د اخيستلو لپاره تر اوو ساعتونو پورې انتظار ويستلی وای. خو نن هغوی له دوو ساعتونو څخه په کم وخت کې بيرته خپل مزل ته دوام ورکوي.

له ۲۰۰۳ څخه راپديخوا، يو ان او پي اس، يو ان سي ټي ای ډي، او يو آن آی ډي او په ماليې وزارت پورې تړلی د افغانستان له ګمرکونو رياست (ای سي ډي) سره د ګمرکونو د مډرن کولو او د سوداګرۍ د آسانولو پروژه پيل کړې، څو د ای سي ډي ظرفيت لوړ کړي او وکړای شي په اغيزمن ډول د ګمرکي ترخيصونو او د عوايدو راټولولو بهير اداره کړي.

دغه پروژه چې د بلاعوض پورونو له لارې او د نړيوال پراختيايي سازمان (آی ډي ای) په مالي مرستې په لاره اچول شوې، دومره ستر برياليتوب و چې د افغانستان د دولت د غوښتنې پر بنسټ، آی ډي ای د دې پروژې د دوام په لټه کې ده څو اطمينان پيدا کړي چې د ګمرکونو په رياست کې د اصلاحاتو پروسه دوام ومومي.

له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۹ پورې دې پروژې د ګمرکونو د لا روڼ او اغيزمن سيستم په جوړولو؛ د ای سي ډي او نورو ادارو د عوايدو د راټولولو د ظرفيت ښه کولو؛ د زيربنايي سيستمونو د سمولو له لارې د خنډونو کمول او د ګمرکي ترخيصونو اړوندو لګښتونو، اړيکي او اداري؛ او د افغانستان په نړيوالې سوداګرۍ کې پر آسانتيا باندې تمرکز درلودلی دی.

له کلونو شخړو وروسته،، د افغانستان ګمرکونو او زيربنا او د سرحدونو د مديريت ظرفيت زيات تاوانونه ليدلي دي. نن ورځ يو شمير زيات دوه اړخيز او څو اړخيزه ډونران د دولت د ظرفيت په پياوړي کولو بوخت دي څو په اغيزمن ډول خپلې پولې اداره کړي. دغې ګډې هڅې لاندې پايلې درلودلې دي:

- له ۴۲۸ دقيقو څخه نږدې ۹۰ دقيقو ته د نقليه وسايطو لخوا د ګمرکي ترخيص د اخيستلو لپاره د لازم وخت راکمول.
- د نړيوال بانک د اټکل پر بنسټ، له ۲ ميليارد امريکايي ډالرو څخه ۸ ميليارد امريکايي ډالرو ته د سوداګرۍ په حجم کې ۳۰۰ فيصدي زياتوالی.

UNOPS

- د ګمرکي عوايدو نږدې ۷۰۰ فيصدي زياتوالی له ۵۰ ميليون امريکايي ډالرو څخه نږدې ۴۰۰ ميليون امريکايي ډالرو ته.

- او د ګمرکونو د پروسسنګ د بريښنايي سيستمونو په کار اچولو او د روزنې له لارې د ښو او لا رښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د ای سي ډي د ظرفيت پياوړی کول.

د زياتره لارئ چلوونکو او د هغوی د شرکتونو لپاره چې هره ورځ افغانستان ته د مالونو په واردولو او صادرولو بوخت دي، دا د افغانستان د دولت لخوا د اطمينان وړ خدمتونو او د سوداګريزو لګښتونو د کمولو په معنا دی.

دا د افغانستان خلکو ته د افغانستان د اصلي موقعيت د تر لاسه کولو لپاره هيله ورکوي چې يو وخت د "وريښمو لار" په تاريخي لاره کې د سوداګرۍ مرکز و او ختيځ يې له لويديځ سره نښلاوه. او دغه کار د افغانستان سوداګريزې اړيکې د هغې له ګاونډيو سره ښې کوي.

د زياتو معلوماتو لپاره، لطفاً له ټامي پيټرسن، د يونوپس عملياتي مرکز سره په *+45 5129 0131* ټيليفون شميرې، ايميل آدرس: tommyp@unops.org يا وبسايټ: www.unops.org اړيکه ونيسئ.